پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۳۱

# د افغانستان دائمی بیطرفي

## خیړنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

# لسمه برخه

# ځلورم څپرکی

اجازه راکړئ یو ځل بیا یادونه وکړم چې ددې رسالې موخه «په ټوله کې د افغانستان په موضوع» کې څېړنه ده، په اوسني څپرکي کې غواړو نـهٔ یوازې هغه احصائـیوي احتمالات ومومو چې پر بنسټ ئـې افغانستان په آسیا کې یو بشپړ خپلواکه، مستقل او دایماً بې طرفه هېـواد اوسي بلکه هماغسې چې اروپا کې په تیرو دوه وو سوو کلونو کې سویټزرلند دی د هغـهٔ په شان له سولې برخمن یو هېـواد واوسي. موږ په دویم څپرکي کې د ۲۰۲۰ز کال افغانستان د ۱۸۱۵ز کال له سویټزرلند سره پرتله کړ او ومو ویل چې آیا افغانستان د «دائـمي بې طرفی» هماغه اووهٔ معیاره پورکولی سي که نه. په دریيم څپرکي کې مو ولیدل چې افغانستان او سویټزرلند دواړه په وچه کې راګیر هېـوادونه دي، سویټزرلند د اروپا په زړهٔ کې او افغانستان د آسیا زړهٔ دی او دواړه مو ددوی د بې طرفی د تأریخ په اړوند له یو بل سره پرتله کړل. پوهانده الف. کورنین د خپلې ډېرې معقولې نظریې «د بې طرفی د تـئـوري» په وړاندې کولو په دې توانیدلې وښيي چې له شپاړلسمې زیږدیزې پېړی[۱] تر اوسه د "نړی والو قضایاوو" په باب د دیارلسو هېوادونو د څېړنو د پایلو په پام کې نیولو سره د «افغانستان دائمي بېطرفي» ممکنه بریښي.[۲] په پایله کې د امکان موندلو محاسبه دا ډول کېږي (سویټزرلند د ۱۰۰٪ = ۷/۷ په لرلو اوافغانستان [یعنی له اوو معیارونو یو معیار کښته- ژ] امکانات ئـې ۸۵,۸. P∑ کېږي.

د یوهٔ «دائـماً بې طرف» افغانستان په باب موافق او مخالف ټکي

| موافق | مخالف |
| --- | --- |
| ۱- ښايي ځلوینښت کلنه جګړه پای ته ورسېږي | ۱ ــپه کورنیو جګړو کې ښکیل ګوندونه ښايي پټ او تر ځمکې لاندې فعالیتونه غوره کړي |
| ۲ ــپه تدریجي خوځښت ځواکونه چې د ګوندونو تر منځ ائـتلاف او تلواله هڅوي، ښايي له قومي چوکاټه دباندې راووځي او خپله لمنه پراخه کړي | ۲- ښايي کورني اورپکي عناصر د افغانستان د دائـمي بې طرفی خنډ وګرځي |
| ۳ ـــ د سوله پالو بهیرونو ډېرېدل او پراخېـدل او د امن ټینګښت د خصوصي اقتصادي تشبثاتو د لا هڅونې لامل | ۳ ــاورپکي عناصر ښايي د مخدره موادو تولید زیات کړي |

---

۱ - Cronin, AK. Cronin, A.K. A Sustainable Approach to Afghanistan: Neutralization. Neutralization in Practice: The Universe of Cases. P. ۳۵٤.Sustainable Security: Rethinking American National Security Strategy; Oxford U.P

۲ - Spiegel, M.R., Schiller, J., Srinivasan, R. Probability and Statistics. ٤th Edition; McGraw-Hill Companies.Inc.    Schaum’s Outline Series: Mathematical Expectation, p.۷۵. ۲۰۱۳.

| | |
|---|---|
| گرځي | |
| ۴ –مخ په ودې سوله او امن ښايي د کورني ژوند لپاره نوې هيلې او شور او شوق رامنځته کړي | ۴ –د سوله ساتو ځواکونو تدريجي وتل ښايي اورپکي عناصر اله ګولي او ګډوډۍ ته وهڅوي |
| ۵ – حکومتولي، د افغانستان د تأريخي قانون او شريعت پر بنسټ د بيا راستيندلو چانس لري | ۵ –پر افراطي شريعت د روحانيت ټينګار ښايي له دې کبله ضعيف سي چې د خپلو شخصي او ملي ګټو په باب ادعاوې نوري پيکه کېږي |
| ۶ - د حکومت مدني مسؤوليت : امنيت، معارف او روغتيا د چارو لا ښه سمبالتيا | ۶ - د سواد لا ډېره پراختيا د هغو جنګسالارانو او کورنيو مسلمانو اورپکو روحانيونو اړيکي ضعيفوي چې د باندنيو اورپکو تر اغيز لاندې دي |
| ۷ –د قومي ټولنو او د مذهبي لړکيو د استازو لرل ملت متحدوي | ۷ نـهٔ قومي لړکي او نـهٔ هم مذهبي هغه کولای سي د الله «ج» تر ساتندويه سيوري لاندې د يوهٔ يو موټي ملت د جوړېدو خنډ وګرځي |

## که د افغانستان دائـمي بې طرفي تر لاسه نـهٔ سي افغانستان کوم بل انتخاب لري؟

**دائـماً بی طرفه ملت** : ددې رسالي په ۸ پاڼه کې زموږ د خبرو په لړ کې د دولت او ملت د اصطلاحاتو د تعريف پر مهال، د دائماً بی طرفه ملت اصطلاح نـهٔ وه ياده سوې. خو د لومړي څپرکي په پينځمه پاڼه کې د نورو تعاريفو تر څنګ «لکه د دائماً بیطرفه هېواد» يوه اصطلاح مو ياده کړې وه او همداشان په ۱۱ - ۱۲ پاڼو کې د پوهاندې کورنين د «بی طرفۍ» د معيارونو په منځ کې ورته يوه نغوته سوې وه. [۳] د ابهام د مخنيوۍ په موخه اجازه راکړئ د همدې اصطلاح ځيني مهم ټکي دلتـه تر شوني کچې په ځير روښانه کړم: **الف) کله چې د افـغانستان د يو موټي ملت دائمي بې‌طرفي په رسميت وپېـژندل سي، ب) کله چې د افغانستان دائمي بې‌طرفي د لويو نړۍ والو ځواکونو له پلوه تضمين سي او د افغانستان ګاونډي، د نړۍ وال ترون په پای کې د افغانستان د دائمي بې‌طرفۍ په لاسوند کې لاس‌ليک وکړي، او يا د افغانستان دائمي بې‌طرفي د ملګرو ملتونو د س‌ازمان په عمومي اسامبلي کې د رائيو په اکثريت منظور او بيا دملګرو ملتونو د سازمان د امنيت د شورۍ له پلوه تصديق سي، ج) د افغانستان د بې‌طرفۍ لپاره د همداسې يوهٔ لاسوند په پای کـې لاسليک کوونکي بايد د «يوهٔ هېواد د بريالي بی طرفه کېدلو» د معيارو په ۶. ۷. او ۳ مادو کې تجسم وومي.[٤]»**

## د افغانستان د پرګنو لپاره له دائـمي بې طرفۍ پرته نور غوراوي د بل هېـواد تر لاس لاندې :

[۳] - Cronin, A.K.  A Sustainable Approach to Afghanistan Neutralization: ٤٧ pages Article is different but was not published. ٢٠١٧.

[٤] - Ditto.  Cronin, A. K. ٢٠١٧

ښايي افغانستان له پوځي او اقتصادي اړخه د نړۍ په يوه لوی ځواک پورې وتړل سي. معاصر تأريخ په اثبات رسولي چې د برتانيي، ورپسې شوروي اتحاد او په اوسمهال کي د امريکا متحده ايالاتو له پلوه پريمانه باندنی مرستي راغلي دي، دا مرستي د شلمي پېړۍ له سره تر پايه مهال کي د ټينګ پاتي کيدا د يوه فکتور په توګه تر سره سوي دي خو پايله ئـي د يوه زښت ډېر ضعيفه دولت او بيا په يوه ناکام دولت اوښتي ده. په بل هېـواد پورې دغه ډول تړښت طبعاً په ضعيفي دولت دارۍ او پراخ فساد کي خپلي اغيزې لرلي دي. د ۱۹۲۰ز لسيزې په ترڅ کي د دولت د عوايدو اکثريته برخه د هېـواد له اتباعو څخه د مستقيمي ماليي د اخيستلو له لارې راتلې، خو په ۱۹۵۰ز لسيزې کي ددغو عوايدو کچه ٪ ۳۰ را ټيټه سوه او د ۱۹۷۰ ز لسيزې په دويمي نيمايي کي له ٪ ۱ لا لږ وو. [۵] [۶]، له دې کبله له اقتصادي اړخه د نړۍ د کوم زبر ځواک تر لاس لاندې دا ډول تړښت نـهٔ د افغانستان د پرګنو په ګټه ده او نـهٔ د باندنيو قوتونو په ګټه. هيڅ ستر نړۍ وال قدرت نـهٔ سي کولای د افغانستان د پرګنو د پای ته نـهٔ رسېـدونکي مقاومت پر وړاندې دداسې پای نـهٔ مونده‌ونکي لګښت تاب راوړي.

## پوځي اشغال

سره له دې چي د افغانستان په نيواک کي هيڅـکله هيڅ هېـواد نـهٔ دی برياليی سوی خو بيا هم يو شمير لويو ځواکونو لکه ستري برتانيي، ورپسې شوروي اتحاد او اوسمهال د امريکا متحده ايالاتو د لنډ مهال لپاره اشغال کړی دی. پوهاند کورنين وايي، " د راتلونکي اشغال لپاره ښايي پاکستان، ايران او چين هم خپل بختونه وازمايي... پاکستان په دې ويره کي دی چي هندوستان ئـي د دروازې شا ته ولاړ دی او تل د هندوستان د محتملو پوځي فعاليتونو په باب کوږ تصور لري نو ښايي وهڅول سي چي له خپلو پولو ورهاخوا سرتيري واستوي. همدا شان په افغانستان کي د اغيزمن امنيت د نشتوالي له کبله ښايی ايران او چين هم دې ته وهڅول سي چي خپلو خاورو ته نـبږدې سيمي تر خپل اغيز لاندې راولي، ان دا چي همدا خبره اوسمهال تر يوې کچي پيل سوې ده. يو ځل بيا تأريخ ته په کتلو، دا جوته ده چي پوځي اشغال نـهٔ د جنګ جګړو اور سوړ کړی دی او نـهٔ د يوه ثبات لرونکي، پياوړي او په ځان بسيا دولت په جوړولو کي ئـي کومه مرسته کړې ده. ټول پوهېـړي چي دا غوراوی هم د قناعت وړ نـهٔ دي او پايله ئـي په بې شميرو ځاني تلفاتو او د ناپايه پانګې په ضايع کولو اوښتي ده.

# تــجــزيـــه

افغانستان دوه ځله د تجزيې تر ګواښ لاندې راغلی دی؛ لومړی ځل د برتانيي له پلوه «ديجور de jour» تجزيه وه؛ د نولسمي پېړۍ په وروستيو کلونو کي ول چي مارتيمر ديورند په ۱۸۹۳ز کال د تزاري روسيي په توافق د برتانوي هند د دفاع په موخه د ديورند کربنه ترسيم او افغانستان ئـي په يوه حايل هېـواد بدل کړ. برتانويانو ان په دې هم قناعت ونـهٔ کړ او له کورني اړخه د خپلواک ولايت په رامنځته کولو (د هندوستان شمال لويديځ سرحدي حد North Western

[۵] - Verijl, J.H.W. *International Law in Historical Perspective, Part IX-B: The Law of Neutrality;*The Netherlands: Sijthoff & Noordhoff, ۱۹۷۹.
[۶] - Barfield, T. *Afghanistan: A Cultural and Political History;* pp. ۲۰۴-۵ :Princeton, N.J.: Princeton University Press, ۲۰۱۰.

(Frontier Province (NWFP ئـې د هندوستان (نا اشغال سوې يا د منازعې وړ سيمې ,”No Man’s Zone“) په توګه جوړ کړ او له هغـۀ مهاله تر اوسه همداسې پاتې ده. د تعجب ځای خو لا دا دی چې د برتانويانو دا عمل په خپله د برتانوي هند د ستروا کي پر مخ داسې کلکه څپېړه وه چې خپله ستروا کي ئـې په کې وچاودېدله. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د افغانستان خلکو نـۀ هاغه مهال او نـۀ به په راتلونکي کې د خپل هېـواد تجزيه ومني.

## کورنۍ پرله پسې جګړې

د افغانستان اوسنۍ نازک حالت بنايي له يوۀ اړخه د پای ته نـۀ رسيدونکو قومي، قبيلوی او مذهبي شخړو د پايلې اړخ ته نغوته وکړي. په اروپا کې پينځه سوه کاله ئـې ونيول چې پيچلې قومي ملت – دولتونه ټينګښت ومومي. انديميک ډلپالنه، اورپکتوب ته ليوالتيا، فساد او ضعيف مؤسسات به خپل ژوند ته تر لنډ يا منځمهاله مودې ته دوام ورکړي. آيساف ISAF مهم ګامونه په ځانګړې توګه د ملي اردو په اډانه کې اوچت کړي دي، خو بايد په ياد ولرو چې باندني ځواکونه هيڅکله نـۀ سي کولای هاغه ډول اوږد مهاله عمومي نظم او اتحاد په چا بار کړي چې ناپيليون وکولای سول ګډوډ او ټوټې ټوټې سويس ئـې په مرکزي دولت بدل کړ.[۷]

## دداسې يو حايل حالت چې پايله ئی د افغانستان په دائمي بېطرفۍ واوړي نۀ يوازې د يوۀ ثبات لرونکي هېواد په توګه د افغانستان پايښت ته بلکه د آسيا ثبات او امن ته هم ګټور دی

په اوسمهال کې افغانستان دداسې يوې جګړې ډګر دی چې څه دباندې د نړۍ ځلوېښت هېـوادونه ورځخه د اورپکو اسلامي ډلو لکه داعش، القاعده او د هغوی د نړۍ والو څانګو او ترهګرو پر وړاندې دفاع کوي ترڅو ددې خنډ وګرځي چې ترهګر د افغانستان له خاورې څخه د خوندي ځالې په توګه ګټه وانخلي. دا به د ټولو ښکليو خواوو او همدا شان د ليرې او نـېږدې ګاونډيانو په ګټه وي چې پوه سي چې د يوۀ هېواد بيا رغاونه له يوې تر درو لسيزو پورې وخت نيسي ترڅو پای ته نۀ رسېدونکي ګوريلايي جګړې د اوربند، او دداسې خبرو اترو دوام چې پايله ئـې د نړۍ والو سوله ساتو ځواکونو په وتلو واوړي او ورپسې ئـې د افغانستان د پرګنو لويه جرګه جوړه سي چې خپل حکومت وټاکي او په پای کې د يوۀ نړۍ وال ضمانت په لړ کې، افغانستان دحسن نيت له مخې په يوۀ دايماً بېطرفه هېواد واوړي.

## د افغانستان بې طرفي ښايي د لاندنيو هېـوادونو په ګټه او تاوان وي

| ګټه | تاوان |
|---|---|
| **امريکا :** د امريکا ٪۸۰ وګړې د افغانستان د جګړې د شرافتمندانه پای موندلو غوښتونکي دي او نـۀ غواړي د يوۀ بل ويتنام د ماتې دسيسه يو ځل بيا ووينې. له افغانستانه د ځانې تلفاتو د مخنيوۍ په پار يو ناڅاپه وتل کولای سي داسې | د افغانستان په دائـمي بې طرفۍ سره ښايي امريکا په منځنۍ آسيا کې يو حساس جيوپولټيکي ټکی له لاسه ورکړي. دا ټکی هغه مهال عملي اړخ مومي چې امريکا له خپلو وتلو سره جوخت د قدرت يوه تشه پرېږدي. له يوې تر درو لسيزو |

[۷] - Cronin, A.K. A Sustainable Approach to Afghanistan Neutralization: ٤٧ pages Article is different but was not published. ٢٠١٧

| | |
|---|---|
| یوه تشه رامنځته کړي چې حالت بېرته د سپتمبر له پېښې مخکې حالت ته وګرځي او یا به افغانستان کوم بل سیال هېواد ته واوړي (هو) | پورې وخت په کار دی چې له یو بل سره په همکارۍ او مرستې او د جګړې د پېټې په ویشلو، د ځاني تلفاتو په لړلو او د پانګې په مصروفولو او په دیموکراسۍ د باورمند او په تحصیل سمبال دوست ملت په آسیا کې سي هماغسې چې سویټزرلند په اروپا کې دی او په دې توګه د امریکا لومړنی موخه به تر لاسه سي. |
| **چین :** د افغانستان په دائمي بې طرفی سره د اویغور د سیمې د رادیکال کولو، د هند – پاکستان ترمنځ د اتومي شخړې د لا بې ثباته کولو، د امریکا، اروپایي اتحادیې او ناتو ددائمي حضور د مخنیوي په باب اندېښنې ښایي لږ سي. ددې ترڅنګ له ثباته برخمن، پرمختللی بې طرفه افغانستان ښایي پر ژړو یا مسو باندې د چین د پانګونې د پاینت لامل وګرځي او په راتلونکې کې په طبیعي زیرمو بدای هېواد کې ورته د کانونو د موندلو په ډګر کې نوي ابواب پرانیزي. (هو) | د افغانستان دائمي بې طرفي ښايي د وریښمو د لویې لارې په هکله د چین د ولسمشر شي جین پینګ Xi Jinping اهمیت لږ کړي، دا هغه پلان وو چې په ۲۰۱۳ز کال کې اعلان سو چې پر بنسټ ئې پټیل شوې چین او اروپا له یو بل سره د ځمکې له لارې ونښلي، د چین او اروپا تر منځ د بېړۍ لار له ۴ تر ۶ اونیو وخت نیسي حال دا چې د رېل لاره دوه اونۍ وخت نیسي. له دې ټولو سره سره د سوداګرۍ لپاره دداسې یوې لویې لارې تأریخ څرګندوي چې دا لاره کولای سي له افغانستانه تیره سي او د چین هیلي تر سره کېدای سي. |
| **روسیه** : د افغانستان دائمي بې طرفي کولای سي د روسیې هغه اندېښنې لږ کړي چې په خپلو سویلي اقمارو یعني تورکمنستان، وزبیکستان، تاجیکستان، قرغیزستان او د منځنۍ آسیا د نورو مسلمانو ملتونو په منځ کې د اوړپکي اسلام د خپریدا په اړه ئې لري. له چیچنیایي مسلمانانو سره د روسیې د خلکو اندېښنه په څرګنده د اندېښنې وړ ده. د خپلواکمنۍ یا خود ارادیت د غورځنګونو ځواکمنېدل، د نړۍ وال کېدنګ یا ګلوبلایزشن غورځنګ او د پخواني شوروي دولت له ړنګیدا وروسته د روسیې اندېښنې د اهمیت وړ دي. په شخړه کې د ښکیلو هېوادونو په باب روسیه ۳ غوراوي لري: ۱) یا دا چې هغه هېواد له اقتصادي، پوځي او سیاسي اړخه تر خپل لاس لاندې کړي او خپل ئې کړي، ۲) **همداسې یوۀ هېواد ته اجازه ورکړي چې بې طرفه پاتې سي، ۳)** دداسې هېواد په هکله چې د روسیې د سیالیو ځواکونو ژمنې او هڅې له ځان سره لري د خپل سیال پر وړاندې له سیالۍ څخه لاس پر سر سي. (هو) | د افغانستان دائمي بې طرفي په افغانستان کې د روسانو د کمونیستي مهال ګټې له منځه وړي او د چین له مخ په ودې زبرځواک سره په مخامختیا کې د روسیې هغه هیلې پیکه کوي چې د یوۀ پیاوړي او ځواکمن فدراسیون د جوړولو لپاره ئې لري. که د افغانستان د دائمي بې طرفی بیلګه پلې سي ښايي دا لړۍ ددې لامل وګرځي چې تورکمنستان چې په ۱۹۹۵ز کال کې ئې هڅه کړې وه بیا وهڅوي، همدا شان د روسیې نور اقمار به هم وهڅول سي. |
| **پاکستان :** د افغانستان دائمي بې طرفي کولای سي د پاکستان هغه ویره لږ کړي چې ګڼي افغان – هند توطئه به پاکستان منحله کړي. همدا شان د افغانستان دائمي بې طرفي به د پښتونخوا ولایت د خپلواکۍ غوښتونکي غورځنګ او نشلنیزم ځواک پیکه کړي، په ۲۰۱۰ز کال کې د پاکستان په اساسي قانون کې اتلسم تعدیل رامنځته سو چې پر بنسټ ئې د «شمال – مغربي سرحدي» ولایت نوم «پښتونخواه» ته بدل سو. همدا شان د افغانستان دائمي بې طرفي به پاکستان په دې ډاډمن کړي چې یو بې طرفه مسلمان هېواد کولای سي د هندوانو د مخ په ودې نشلنیزم پر وړاندې " په یوۀ پیاوړي حایل هېواد" بدل سي. حقیقت دا دی چې له منځنۍ آسیا سره | ښايي د پاکستان د «ستراتیژیک عمق» پالیسي جوړونکي د افغانستان دائمي بې طرفي مضره وګڼي، ځکه دوی په دې هیله دي چې افغانستان یو تر لاس لاندې هېواد وي. ښايي د افغانستان په دائمي بې طرفی سره سم له منځنۍ آسیا سره د پاکستان سوداګري له خنډ سره مخامخ سي. |

| | |
|---|---|
| سوداګري کولای سي پاکستان ته زښته ډېره ګټه ورسوي. (هو) | |

د لنډيز لپاره : ګټه او تاوان په "هو" او "نه" ښودل سوي دي

| | | |
|---|---|---|
| هندوستان | هو | |
| عربستان سعودی | | نه |
| تورکمنستان | هو | |
| اوزبيکستان | هو | |
| تاجيکستان | هو | |
| نړی وال غير دولتي مؤسسات او نور | | نه |
| مخالف عناصر | په افغانستان کي نړی وال مؤسسات، مسلمان نشنليستان، سيکتاريستان، د خلافت پيروان، مسلمان مذهبي بيليونران او ميليونران، د جنوسايد اورپکي کينه پالي مسلمانان، حسود مخالفين چي له نورو مدنيتونو سره مخالفت کوي، د يو شمير مسلمانانو په منځ کي اخښل سوي له ښکيلاک وروسته د «ځان کم ګڼلو / خود کمتر بيني» عقده | |
| تولګه | ۱۰ | هو ۸ |
| P ∑ .۸۰ | ۸۰٪ | |

د لسمه برخه پای

نور بيا

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د افغانستان دائمی بیطرفی (لسمه برخه)

zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_۱۰.pdf